# د بلوچستان د مزاحمت نوے انداز

خان زمان کاکړ

پاکستان او بلوچ په شپېتهٔ کلن پارليماني او هم مزاحمتي پټ پټوني کښې يو د بل سره ابهٔ جسته نهٔ شول. ځکه چې د وړومبني سره د پاکستان په رياستي اډانه کښې د پښتنو غونډې د بلوچو الحاق هم په غېر فطري بنيادونو استوار وهٔ. د تاريخ لوستونکي پوهېږي چې په زور سره ګنډلي په زور سره بېلېږي. د بلوچو د الحاق په ضد وړومبنے مزاحمت د شهزاده عبدالکريم په مشرتابهٔ کښې دا ځرګنده کړه چې بلوچ ئې په جبر له پاکستان سره وتړلو. د پاکستان د فطرتِ رياستي مطابق دا وړومبنۍ پرېکړه هم عوامي نه بلکې د عسکري ذهنيت تخليق وهٔ. د فوځ کشيو په غوبل کښې ئې انسانيت وشرموهٔ، پارليمان خو ئې عبارت له بې اعتبارۍ دے. په مخصوصو خانداني او شخصي بنيادونو نازول ضرور کوي، هم د سر بولي لګوي او هم د دستار او سردار، خو قامي ګټې پکښې لټول او يا ملي رويې پکښې پالل ګويا د مار پښې وهل دي. د بلوچو په حواله به نن هم منم چې په پارليمان کښې څو کورنۍ د سرو زرو سره وتلل شي او يا به د پاکستان د حُب الوطنۍ په هارونو سرونه هسک کړي خو په مجموعي حواله په بلوچستان کښې هم دا يو د "پسماندګۍ" لفظ دے، چې په هر سياق وسباق کښې له خپلو ټولو معنو سره موجود دے.

پراخه رقبه، پراخ وسائل خو لږه آبادۍ لرونکي دا صوبه په ننني پرمختللي دور کښې هيڅ يوه داسې حواله نهٔ لري چې د ترقۍ په تناظر کښې ئې ذکر وشي. د دوي د ترقۍ دعوې د آبادکارۍ په ضمن کښې ضميرونه په څو مراعاتو رانيول دي او بلوچ ئې د ډېرې محرومۍ سره مخ کړي دي. په دې حالت کښې يواځينے آپشن مزاحمت پاتې کېږي. هم دا مزاحمت دے چې د غلامۍ په تورو او پلنو تيارو کښې د ډيوو د بلولو پاکه سپېڅلې دنده اجراء کوي.

د يو مورخ پيټر جې پېرش(Peter J.Parish) په قول " د غلامۍ د تاريخ لوستلو په وخت دا حقيقت ببخي ځرګند وي چې د دې د بنياد په ناانصافۍ او غېر انساني بنيادونو ايښودل شوے دے او د دې په نتيجه کښې ظلم او بربريت راپېدا شوے دے او له دې سره دا حقيقت هم مخې ته راځي چې د غلامۍ په ضد په انسان کښې د مزاحمت جذبات دومره پياوړي وي چې هغه د جبر او تشدد باوجود نهٔ شي وهل کېدے".

د بلوچو مزاحمت په دې شپېتهٔ کاله کښې په يو نه يو شکل ژوندے پاتې شوے دے. دې مزاحمت په هر دور کښې د بلوچو لپاره د نوي مستقبل د لارې تعين کړے دے او لا ئې کوي. په غرونو کښې ځوانۍ لوګے کول، اوږدې جلاوطنۍ زغمل او ټارچر سيلونه، جېلونه او ځولنې شړنګول ورته د نوي سباوون په لاره کښې راڼهٔ مشالونه شول.

په ۱۹۴۸ء، ۱۹۵۸ء، ۱۹۶۲ء او ۱۹۷۳ء کښې او هم له ۲۰۰۳ء نه تر ننه پورې چې څومره هم په عسکري او فوځي جبر د بلوچو د قامي اواز د غلے کولو کوشش شوے دے، څومره سياسي کارکنان چې ئې د عقوبت خانو او اذيت خانو په بلا خوړلي او څومره چې ئې په ګولو اوده کړي دي، هم هغومره ئې بلوچستان د ځان نه لرې کړے دے. نن دا په بلوچو کښې يو قوي سوچ موجود دے چې څومره هم رياستي جبر او جارحيت زياتېږي، هغوي وائي چې بلوچ هم دومره د ازادۍ هدف ته لنډېږي. ګويا اوس جبر او جارحيت په بلوچو کښې د مظلوميت احساس نهٔ پاروي بلکې د مزاحمت توان وربخښي او مبارزه ئې ستېمولېټ کوي. د غوث بخش بزنجو په قول "بلوچستان مظلوم نهٔ دے. مظلوم هغه وي چې خپل حق نهٔ پېژني".



۴۰ کاله وړاندې بنګالي قيادت وئيلي وو چې هغوي د پاکستان په لارو کوڅو کښې د بنګاليانو د وينې بوئ محسوسوي. کټ مټ دا جمله نن د بلوچانو د خُلو نه راوځي. بنګاليانو وئيلي وو "زمونږ سڼ به پنجابيانو ته ور نهٔ کړو". بلوچيان وائي "زمونږ ګېس به زمونږ وي. د پاکستان اختيار ورباندي نهٔ منو". پرون بنګالي طالبعلمانو د ډهاکه يونيورسټي د کانووکېشن هال نه جناح صاحب په دې بهر ايستلے وهٔ او د دېوالونو نه ئې د هغهٔ تصويرونه راکوز کړي وو چې هغهٔ وئيلي وو چې د پاکستان قومي ژبه يوازې اردو او اردو ده. نن بلوچ طالب علمان د تعليمي ادارو نه د پاکستان جنډه کوزوي او بلوچې ترانې پکښې وائي. نن بلوچيان هغه ورځې د تورو ورځو په نوم نمانځي کومې چې د پاکستان لپاره د وياړ او جشن ورځ دي. په بلوچ قومي تحريک کښې د زنانه خپل يو مهم رول دے او د احتجاج په هر بېنر ئې ليکل شوي وي "war against forceful annexation of Balochistan with Pakistan will continue till victory" د دې تر څنګ دا وخت د ابادکارو خصوصاً پنجابي مزدورانو، استاذانو او تاجرانو لپاره هم زمکه ډېره تنګه ده، د ټارګټ کلنګ واقعات اوس يو معمول دے. چې ډېرې زړهٔ لړزونکې او زړه سوځونکې پېښې پکښې رامنځته شوي دي.

په نړيواله کچه اوس بلوچ قامي تحريک يو ډېر ښهٔ پوزيشن لري، بلوچيان په يو بهرني لاس نيولو کښې کوم حرج نهٔ محسوسوي، هغوي دا د قامي تحريک مهمه برخه ګڼي. په نړيواله ميډيا هم د بلوچو مسئلې ته يو ډېر ښهٔ کوريج ورکول کېږي. دا خپل نړيوال سياسي او اقتصادي عوامل لري. بلوچستان په مستقبل کښې د يوې نړيوالې لارې حېثيت خپلوي. نزدې ده چې ګوادر د دې سيمې په سياسي افسانه کښې د مرکزي خيال حېثيت خپل کړي.

د بلوچ مزاحمت یو لوے نوم نواب خیر بخش مري په یوه مرکه کښې وائي " په بلوچ قام کښې اوس تر پخوا ډېره بېداري ده. قامي مبارزه ډېره په تېزۍ سره مخ په وړاندې روانه ده. اوس دا سلسله یوازې تر بلوچستان پورې محدوده نۀ ده بلکې بهر نړۍ ته خوره شوې ده.



د نواب یوسف عزیز مګسي په دور کښې هم د قامي مبارزې او بېدارۍ لپاره ډېر کار وشو، بیا دې کار په هر دور کښې په یوه نۀ یوه بڼه دوام لرلے دے. نن چې په زرګونو او لکونو بلوچیان د بلوچستان په قامي تحریک کښې د کوم جوش او جذبې اظهار کوي، شاید په ماضي کښې به داسې نۀ وي شوي. څۀ ښکاره او څۀ انډرګراونډ کار روان دے. حالات خو کله هم د بلوچو د ازادۍ لپاره موافق نۀ دي پاتې شوي خو د ازادۍ د ګټلو لپاره حالات د مسلسل مبارزې او انقلابي نصب العین له لارې موافق جوړېدے شي".

ازادي غوښتونکي تخریب کار او شرپسند نومول یو پخوانے روایت دے. په پاکستان کښې له شپېتو کلونو په ژبو اوړي راوړي. خو بامقصده خلق د لفظونو کرتب بازۍ ته نۀ ګوري بلکې خپل هدف مقدس ګڼي. هغوي په خپله مقدسه لار د هر ډول کړاؤ، جبر او تکلیف باوجود تش په دې یقین مخ په وړاندې ګام اخلي چې په دې ګام هغوي خپل منزل ته نژدې کېږي. تر منزله چې شرط د رسېدو شي، د هر ډول جبر او کړاؤ زغملو ته په سر سترګو د آمادګۍ رجحان راپېدا شي. هم دا رجحان تحریکونو ته د سرلوړۍ او کامیابۍ پټکي وررپېرزو کوي. دلته دا نۀ کتل کېږي چې د خپلواکۍ نهضت څومره پیاوړے او څومره کمزورے دے بلکې د اساسي نوعیت خبره دا وي چې د دې نهضت هدف او کاز په حق مبني، رښتینے او مقدس دے. تر ټولو ائيډيل او په زړۀ پورې صورتحال هغه وي چې کله د یو قام په وګړو کښې دا ژوندے فکر راپېدا شي چې مونږ د انتظار لپاره ډېر وخت نۀ لرو بلکې د خپل قام نجات او خپلواکي هم په خپل ژوند کښې لیدل غواړو. هم دا رویه نېشنل ازم ته غذا ورکوي. نېشنل ازم چې د یوې فطري او نفسیاتي رویې په حېث د سیاسي نظریاتو او اهدافو ملګرے شي هلته د یو کامیاب تحریک ترتیبولو ته لار هواره شي.

دا حقیقت به ډېر زر په عملي بڼه خپل ځان ثابتوي چې بلوچ قامي تحریک د نوي عصر له نویو رجحاناتو برخمن سیاست مخ په وړاندې بیائي او هم د منطقي نتائجو د لاس ته راوړلو بشپړ توان لري. په دې نژدو وختونو کښې د بلوچستان حالات حتماً یوې داسې خوا ته لار وباسي چې ګوادر به د ملټي نېشنل کمپنیو په نظر کښې د ګردش نقطه وي. په دې ضمن کښې د ګاونډیانو دلچسپي هم له

نظره نهٔ شي اچول کېدے. خو تر ټولو زيات پېچېده صورتحال به دا وي چې د ترهګرۍ خلاف جنګ به د بلوچستان پښتون بېلتې ته راوړدېږي. کهٔ څهٔ هم بلوچ به بيا هم په خپل قامي جنګ کښې بوخت پاتې وي خو سوال دا دے چې د دې سيمې پښتانهٔ خپل قامي سوالونه د افغانستان او پښتونخوا په مثال بل چا ته خو نهٔ ډالۍ کوي؟



بلوچيان وائي چې هغوي سړکونه او بلډنګونه نهٔ غواړي بلکې يوازې ازادي غواړي. دا هم وائي چې ازادي څوک چاته په رضا نهٔ ورکوي بلکې ازادي اخستل کېږي. بنيادي سوال دا دے چې کهٔ بلوچ ازادي اخلي، په دې صوبه کښې د مېشته پښتون شرائط به څهٔ وي؟ له يوې اوږدې مودې دلته کښې استخباراتو پښتانهٔ او بلوچ په خپل منځي کشمکش کښې سره اچولي دي. ځکه چې دښمن پوهېږي کهٔ بلوچ او پښتون شريک سنګر ته لاړ شي نو نتائج به ئې زښت انقلابي وي. دا وخت په تعليمي ادارو کښې يو بحراني کېفيت او کشېدګي موجوده ده، په لساني بنياد د ټارګټ کلنګ سلسله هم روانه ده. خو هر طرف ته مکمله خاموشي ده.

بلوچ نور د مفاهمت په فلسفه يقين نهٔ لري، ځکه چې په دې شپېتو کلونو کښې هغوي ته بغېر د بې اعتبارۍ او بې اعتمادۍ نه نور څهٔ نهٔ دي ورکړل شوي. حکومتونه کهٔ ئې کله ورکړي دي، هغه هم د څو مياشتو مېلمانهٔ او پلان شوي حکومتونه!! نور ئې نهٔ ورسره په قران وعده وپالله او نهٔ د پارليماني کمېټيو خندونکو کردارونو کومه نتيجه ورکړه!! د پرون نازولي ورته نن د مزاحمت علامتونه دي. خو څو خاندانونه ئې نن هم د پارليماني سيټ اپ له مخې په ټېکه دي. خو د دې تر څنګ د بلوچو کانکرېټ صورتحال هم زښت مضبوط دے. مونږ ورله په مردم شمارۍ کښې يوه لويه قرباني ورکړه، د خپلو دا يوه ګټه مې د يادولو ده، چې دا دومره لوے پښتون ئې د بلوچ سره په نفرۍ کښې د يو ټيټ حثيت خاوند کړو. دعوه به ئې کوله چې په ګورنر او وزير اعلیٰ کښې به يو پښتون وي، نن دواړه بلوچ دي. په پونم کښې مونږ د بلوچستان د حقونو خبره کوله او هغوي د بلوچو، نن هم هغوي د بلوچو خبره کوي خو مونږ د نادرا نه شناختي کارډونه غواړو.

رياستي ادارې له يوې اوږدې مودې کار کوي چې په ټولنيزه توګه د ويرې يو صورتحال راپېدا کړي او هم د ويرې يو سياسي استعمال وکړي. د ډرون حملو ذکر هم کېږي او د اپرېشن افواه هم ګرځي. خلق د خپل مستقبل په حقله په يو ډوب فکر کښې پراتهٔ دي. څوک نشته چې د مستقبل خدوخال ورته په ګوته کړي. دروېش درانے راياد شي.

ګوره چې کله به راځي له کومې خوا به راځي
خپلے قام د يو سرې په انتظار ښکارېږي

د بلوچستان مسئله په سنجیده بنیادونو کله هم نۀ ده څېړل شوې او نۀ ئې په سنجیده بنیادونو د حل کوشش شوے دے. دلته د مذاکراتو عمل د ټوقو وي خو د چاؤنو قیام سنجیده. په نورو ټکو دلته پارلیماني مذاکراتي کمېټئ بې اختیاره خو عسکري انتظامي قوت خودمختار وي.

په بلوچستان کښې د جنرل مشرف شروع کړې مېګاپروجېکټس هم د عسکري نوعیت دي. په دې حواله عوام په اعتماد کښې نۀ دے اخستي شوي. احساس محرومي شته، اقتصادي تضاد او تصادم موجود دے. د پښتنو درانۀ درانۀ غرونه ئې ورته هوار کړل. هلته د زمردو په کانونو څوک واکمن وو او دلته کرومائټ څوک وړي؟ بلوچو ته د ګوادر جنت په خپل وطن کښې یو لوئے جهنم دے. ځکه چې:

اغیار پکښې لمبېږي زۀ ترې ګوټ کولے نۀ شم
دا سیند کۀ اباسین شي هم پرې اور لګول غواړي

نواب خېر بخش مري وائي "په څومره تېزئ چې په بلوچستان کښې مداخلت زیاتېږي، کۀ د دې سېلاب مخه ونۀ نیول شوه نو بیا په اقلیت کښې بدلېدل کوم وخت نۀ اخلي. د ګوادر اوسېدونکي به مهاجر بلل کېږي او بهرني به د مالک په حېثیت ناست وي. کۀ مو چرته ځنډ وکړو نو چې کوم مرض دے دا به یو دائمي مرض جوړ شي. غلامان پېدا شوي وو، هم په غلامي کښې به مړۀ شو. د ازادئ او صرف ازادئ په روڼ کۀ مو لوبه وکړه نو ګټو ئې ګني وطن به بائلو".

یوه بله لویه مسئله د سیاسي کارکنانو د پټو لاسونو په مرسته اوچتېدل دي. هره ورځ زنانه او ماشومان د مطبوعاتي کلبونو مخې ته د خپلو نازولو عکسونه په لاس ولاړ وي. دا د انساني حقوقو په حواله یو خطرناک صورتحال دے چې په نړیواله کچه د بلوچستان مسئلې ته لوئے کوربېج ور په برخه کوي. د دې ترڅنګ د لویو سیاسي مشرانو د وژني سلسلې د بلوچو مسئله خپلې منطقي نقطې ته رانژدې کړې ده. د نواب اکبر بګټي د قتل نه تر بالاچ مري او بیا اوس د غلام محمد بلوچ، لاله منیر او شېر محمد بلوچ بې رحمانه وژنې په بلوچ قامي تحریک کښې د یو ترقي یافته مزاحمت روح پُوکلے دے او هم ئې د نړیوالو توجه ځان ته رااړولې ده. د ناکام ریاست ناکامې حربې اوس په نړیواله کچه رسوا کېږي. د دو قومونو نظریه کۀ ئې د بنګله دېش په شکل په سیند لاهو کړه نو اوس به د بلوچستان په شکل کښې په پاکستان کښې مېشته پنځۀ قومونه په خپل اصل شکل کښې راڅرګندېږي. نو ابادیاتي نظام اوږدې غلامئ وژېږولې، په اوسني جدید عصر کښې د جدید قومیت تصور ترقي کوي او هم به قامونه خپلې فطري خپلواکئ تر لاسه کوي. هسې هم د سرحدونو کوم ارزښت په اوسني دور کښې پاتې نۀ دے. د بلوچستان د مسئلې په تناظر کښې چې عالمي سیاسي او صحافتي ادارې د پاکستان کومې نوې نقشې جاري کوي، د هغوي اهمیت له نظره نۀ شي اچول کېدے. د پاکستان رښتیني ځواک او ژواک (پنجاب، فوځ او بیوروکرېسي) د تدبر ماده له لاسه ورکړې ده، اخرنے جنګ هم د دې ځواک او ژواک سر ته ولاړ دے. ګورو چې دوي د خپلې بقاء لپاره کومه ستراتیجي غوره کوي؟▪

khanzamankakar.kakar@gmail.com